
ډيوه کورس
عشقي ناول
ليکوال : انجنير تميم امرخيل

# ﻟﻴﻮﻩ ﮐﻮﺱ ﻧﺎﻭﻝ

ډالي دي وي هغه کس ته چي زه يي ژوند کولو ته
وهڅولم

# د ليکوال لنډه پېژندنه

انجنير تميم امرخيل د عبدالفتاح امرخيل زوی د
امان الدين امرخيل لمسي د ميدان وردګـو ولايت د نرخ
ولسوالي اوسيدونکي

په 1382/2/28کي يي نړي ته سترګـي غړولي دي

د لومړي ټولګـي زده کـړي يي د ميدان وردګـو
ولايت د نرخ ولسوالي د کريمدادو په سيمه کي د شهيد
صابر يار په عالي ليسه کي پيل

او بيا له دوهم ټولګـي څخه يي پورته زده کـړي د
کابل ښار په پنځمه ناحيه کي د ابوذر غفاري رض په
عالي ليسه کي پيل کـړي

په 1402/9/29کي له همدي ليسي څخه فارغ شو

په اولس کلني کي يي له شعر او شاعري سره يي علاقه
درلوده بيا د ناول له لوستلو سره خو بيخي زياته

## د لیکوال لیکل شوي اثار

خدیجه مېره شوه ناول

زه واده نکوم ناول

ته غریب یي ناول

ډویوه کورس همدغه ناول

او راتلونکي ناول به د مور په باره کي وي

دا دي ډالي وي يو نا اشنا كس ته

كه چيره تا يو ځلي انسان ته د سجدي اجازه وركـړه
او به زه خپلي معشوقي ته كوم سجده پروردګـاره

موږ عاشق او معشوق د يو بل غم زغملي نشو
ساه واخله خو د دواړو نه جوړه پروردګـاره

الكاپي

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیل

زما پلار تجار وه په دري هیوادونو کي به یي د قالینو تجارت کاوه دوبي ,جرمني او افغانستان کي یي دغه کار مخ ته بیولو

په میاشت کي به مي پلار یو یا دو ځلي له هیواد څخه دباندي په دغو کارونو پسي کرځیده

زه هم چي کوچني ماشوم وم نو په دي خبرو به مي دومره ډیر سر نه خلاصیده

له اول ټولګـي څخه تر شپـږم پوري په خصوصي

## لیسه کې وم

شپږم چې مې خلاص کړو نو پلار ته مې وویلې چې
زه دولتي مکتب ته ځم نه خصوصي ته

هغه ویلې چې نه همدلته یې ووایه ځکه دا درته شه ده
درس یې هم شه ده په دولتي کې چندان درس نشته دا ده
هغه ده همدا یې بهانې وې

خو زما چې له انجونو بدا راتلل نو ځکه دولتي ته مې
زړه شه کړې وه

بیا هم ما ټینګار وکړو چې ځمه دولتي مکتب ته

پلار هم را ته اجازه راکړه

ځان مې دولتي مکتب ته را تبدیل کړو

په اولو ورځو کې هیچا هم په څوکي کې ځاې نه راکولو
وروسته مې بیا له لالا حسیب او ویس سره ملګرتیا
پخه شوه ما به په صنف کې فعالیت هم کاوه استادان هم
رانه خوشحاله وه

زما ملګري هم یو یې د میدان وردګو د نرخ وه بل

يي هم د كندهار وه

هر كله به مو ټوكي سره كولي دا ميداني لالا حسيب نو بيا په ټوكو كي اول وه

ويس باندي به مو چي هر كله ټوكي كولي نو راستن به يي په تشيو كي وار كاوه

هر كله به موږ دوو د ويس له لاسه وهل خوړل

كله به يي چي ژوبل كړو نو موږ به اخ كړو او استاد به هم ويس په يوه پښه ودرولو موږ به هم خوند ځيني اخيست

ويس هم نام خدا په اندام كي شه وه تقريبا

83 كيلو وزن يي درلوده

او بل ټول

استادان پري پوه وه چي ويس به په موږ ملامت وه چي وهلو به يي ځكه هر استاد به ليده

د شوخي مو هم نوم په ايداره د مكتب كي لګيده او په لياقت كي خو بيا نو دچا پلار هم نه راپسي رسيده اووم اتم او نهم ټولګي مو هم په ريشخندي كي خلاص

# کـړه او هم په درس کي

په موږ دري ملکرو کي لالا حسیب اول نمره کامیاب شو زه او ویس سر په سر دریم او دویم وو دومره مو هم طالعي نه وي بیداره چي موږ دي دومره مخکي شو خو له اول نمره مو نقل اخیسته

لسم صنف ته چي راورسیدو نو کرونا مرض په ټوله نړي کي خپور شو

اول په چین راغلو بیا په امریکا همداسي یي نړي ته خپور کـړو چي زموږ په هیواد یي هم غلبه وکـړه

بیا نو د ډیر وخت دپاره یي کرار په کور کي کینولو د قرنطین په نوم

لسم صنف مو هم وروستي دوه میاشتي وویلي دلته نو یو خوا رقابت وه بل خوا مو باید دري کلني نمري هم لوړي وي نو چي امتحانونه خلاص شول په اطلاع نامو پسي چي لاړو بیا د ښخوا په شان نمري نه وي بس یوازي ګـروپ وه دا ځلي موږ دري واړه په الف ګـروپ کي

وو

د ژمي روخصتي مي ټوله په درسونو کي تیره کړه د ساینس اساسات مي په دیوه کورس کي شروع کړل کرار کرار مکتب هم شروع شو

بیا هم سخت خوشاله وو مکتب ته

خو دا خوشحالي د درس نه وه بلکي دملګرو سره د ساعت تیري وه دا وخت مي ټول صنف کلک ملګري شوي وه ځکه ما به کله کله په صنف کي د پشتو او یا هم انګلش په ساعت کي یو شعر په ټول صنف اوریده

د پشتو استادمو هم شاعر وه هم لیکوال او بیا زموږ استاد هم

په کورس کي به مي هم شه درس ویلي هر کله به چي هفته وار امتحانونه راغلل و زما به پکي له سلو تر پنځه نیوي پوري نمري وي

همیشه مي کوشش خپل درس ته وه

یوه ورځ ي د پلار د اطاق له دروازي سره تیریدم نو د مور او پلار بحث مي واوریده چي خپلو کي سره پري خبري یي کولي اویوله بل نه یي مشوري اخیستي

پلار مي ويلي چي ځو دوبي ته هغلته ژوند کوو مور مي بيا ويلي چي نه لاړ به شو جرمني ته

ما هم غوږ ورته ايشي وه چي د ددوي خبري خلاصي شوي نو له کور څخه ووتم ځان مي داسي راوسته لکه چي هيڅ مي هم نه وي اوريدلي

ماشام چي کور ته راغلم مشري خور مي زينب راته چاي واچولو پلار راته وويلي زوي جانه پاسپورت او تذکره دي راکړه چي ويزه درته لګوم ځو جرمني ته

له دي څخه مخکي مي هم مور او دواړه خويندي له پلار سره په چکر کي تللي وي نورو هيوادونو ته

خو زما بيا له خپل هيواد څخه هيڅ زړه هم نه کيده او دا چي مي په کندهار کي په خپل نوم يعني اتل په نوم يوه خيرندويه ټولنه هم درلوده نو ځکه مي زړه نه کيده چي لاړ شم

ما چي پخوا مي دمور او پلار خبري اوريدلي وي او پوهيدم چي بيا نه راځي نو مي پلار ته داسي وويلي

پلار جانه ته ځه لاړ شه چکر ووهه زه نشم کولاي لاړ شم راتلونکي مياشت کي دري سيمنارونه لرم په خپله خپرندويه ټولنه کي نو نشم کولاي لاړ شم بيا  که مي و خت پيدا کړو حتمي راځم

پلار مي ډير ټينګار وکړو خو ما هم نه منله

خويندي مي هم خبري وي چي ځي بيا نه راځي

هغوي هم راته وويلي لالا لاړ به شي په هيواد کي جنګونه هم دي شايد طالبان راشي په کابل کي هم جګړه شي بيا به درته فرصت نه وي چي راشي خو ما نه منله

اخر وژمي خور مي دسي وويلي

لالا موږ بي له تا بل ورور نه لرو که هغلته لاړ شو خلک به زور راته شکاره کوي وايي به چي ورور نه لري

په دي وخت کي زينب داسي ټپه وکړه چي زه يي ډير جذباتي هم کړم خو زما خبره بيا خبره وه نو

بي ورورە خور دي نه وي
خور که کشره وي که مشره په ورور نازيږی

ما وويلي زينب جاني خبره دي صحيح ده خو زما اوس زړه هم نه کيږی بل چهار نيمه امتحانونه مي هم رانږدي دي او دا سيمنارونه مي چي خلاص شول بيا به زه هم درشم
او که په هيواد کي داسي جګړي وي بيا به هماغه ځاي د استوګني هم وټاکو

پلار مي هم خبره تائيد کړه
خو د مور له زړه مي بيا يو الله خبر وه

ټولو په دي خبره تائيد کړه چي زه به له چهار نيمه

امتحانونو او خپلو سیمنارونو وروسته ورځم جرمني ته

خو په زړه مي ویلي چي قسم که مي بوځي چي څه هم شي

خو خیر دا وخت هم راغلو چي پلار دوي مي باید د قرباني اختر په اومه ورځ دي لخیر سره سفر وکړي

د سفر شیان یي ټول تیار کړي وه د اختر په شپو او ورځو کي ډیر بیرو بار د میلمنو هم وه ځکه دوي چي تلل بیا نه راتلل

مور او خویندي مي هم د ټولو خپلوانو کره لاړي له ټولو یي خداي په اماني هم واخیسته

خو په ټولو راغلو میلمنو کي مي دویمه خاله چي رڼا نومیده سخته خفه وه ځکه هغه به چي له کلي راغله

زموږ کور به یي ځاي وه موږ به ورته خوشحاله کیدو

دغه خاله مي د وردګو ولایت په سید ابادو کي واده وه

د هغه ځای غټې مڼې به یې هم راوړلې او هم غټ غټ بادام

خیر شپې او ورځې تیریدې د پنج شنبې ورځ وه د اختر اومه ورځ د پلار دوی سفر مې هم نژدې شو دوی باید نیم ساعت وروسته له کور څخه وتلې وه

دا وخت نو څوک اوشکې پاکوې ژاړې او څوک بیا وایې چې پاسپورټ مو پاتې نشې ویزه مو پاتې نشې دا ده هغه ده همدا یې ویلې

یو زه وم چې خاموشې مې اختیار کړې وه

د ماما لورګانو به راباندې ریشخند واهه ویلې به یې وروسته به څنګه ژاړې اوس خو دې دوې په کور دې

وروسته به دې ووینو چې داسې غیرت وکړې

بلې یې ویلې اله وې ته وګوره رنګ یې اوس ژیړ واوخته

دا به لا وروسته څه کوې

خو ما بیا هیڅ هم نه ویلې ځکه له دې مخکې مې هم د

کورني ټول غړي يوځاي تللي وه له دي هر څه سره بلد وم

خو چي د خاله به مي اوشکي وليدي نو په هغی به مي زړه بديده

زړه به مي ويلي چي په غم کي يي زه هم وژاړم شه سمه غم خواري ورسره وکم

خو نو دلته به دي له هغو پيغلو جينکو غيرت کاوه چي اوس ونه وايي واقعت کي هم ډير بي غيرته ده

خير بلاخِره دوي لاړل

د حامد کرزي په هوايي ډګر کي زه هم ورته تر هغو و لاړ وم چي دوي له سترګو پناه کيدل

کله چي له سترګو پناه شول ماما مي په غريو کي وويلي راځه بچيه چي ځو

ما هم د سمه ده په دود سر وخوزاوه خو د ماما مي چي اوشکي هم رواني وي او له ما يي پټولي ما هم ځان پري پوه نکړو چي تلل

نو تلل به په زور چا نه وه ليږلي په خپل شوق سره تلل

لا خپل موټر ته نه وم رسيدلي چي د وژمي خور مي زنګ راغلو

له سلام وروسته يي وويلي لالا د مور مي موبايل ستا په موټر کي پاتي ده هغه که راوړي

په سمه ده سره مي جواب ورکړو

موبايل چي قطع شو نو ماما مي ويلي څه وايي

ما هم ورته کيسه وکړه چي فون غواړي

موبايل مي چي ورواړلو نو مور مي په وروستي غيږه کي داسي وويلي

زوي جانه ځانته پام کوه

شايد يو بل ونه وينو

شايد مو وروستي ديدن وي

خداي خبر يو بل ته به رسو که نه

همداسي يي نوري هم غمجني خبري وکړي چي زه يي هم ډير سخت په ژړا کړم
مور او خويندو خو ژړل
خو د پلار بيا داسي اوشکي يوپه بل پسي وي ته به وايي چي ناوه کي اوبه بهيږي

له وروستي خداي پاماني وروسته له هواي ډګر نه ووتلم ګورم نه ماما وه نه هم خاله ګاني ما هم خپل موټر ته کش ورکړو د چهار راهي قمبر په طرف راغلم
کور ته چي ننولم نو خالي مي هماغه رڼا الله وه دوه يي لورګاني او يو يي هم زوي وه

خاله مي خفه وه خو ما بيا وويلي خاله جاني په شوق تللي نه چا په زور شړلي او نه هم د چا ورته اختار راغلي وه
نو ته دي ولي خپلي غوشي پسي خوري

پرېږده يي چې لاړ شي

د خاله هم لږ وضعيت جوړ شو ويلي سمه ده

بيا مې ورته وويلي که دي زړه وي زه به د عبدالرحمن له پلار سره خبري وکم تاسو هم دلته راکډه شي نور

نو زه هم يوازي يم ته څه وايي ما ويلي چې لورګاني او زامن به دي هم دلته کي درسونه ووايي دي خو راسره ومنله

خو چې مې رحيم ګل کاکا ته زنګ وواهه هغه ويلي نه بچيه نه کيږی موږ دلته هم ځمکي لرو په هغو به څوک کار کوي

ما ويلي دهقان ته يي ورکي

خو چې ده ډيري بهاني وکړي ما هم پريشوده مال خپله دي خوشه ده

له دغي ورځي يوه ورځ وروسته زموږ امتحانونه شروع کيدل

هيڅ مي زړه هم نه کيده چې زه دي درس ووايم واقعت

چې شي په خوېندو پسې سخت خفه وم که څه هم دوا ړه
رانه مشرې وې خو بيا يې هم زما ډېر خيال ساتلو زما
په خوله به يې کار کاوه هر کله به يې خوشحاله ساتلم

خير ده له اوه ساعته وروسته مې د پلار وتساپ ته
زنګ وواهه هغه جواب نکړو همداسي مې مور او
خوېندو ته هم زنګ وکړو خو چا ګوشي پورته نه
کړه له نهه ساعته وروسته زنډ وروسته چې شپې اوه نيمې بجې
وې د طلوع نيوز تلويزون په پرده بېړني خبر راغلو

ما يې هم اواز لوړ کړو

ټول په چوپه خوله ناست وه تا به ويلي دقران تلاوت ته
غوږ دي

د خبرنګار له خولې داسي ووتل

سلام شه راغلاست يو بېړني خبر چې همدا شيبه د
دوبي څخه په لاس راغلي ده

د کام اير هواي شرکت يوه طياره چې نن دا٠غرمې په
دولس بجو يې پلاي کړي ده د نشست پر مهال يې
سقوط کړي ده چې له امله يې ډېري خلکو خپل ژوند له

***لاسه ورکـړي او يو شمير يي بيا تـﯥپيان دي***

***دا خبر نه وه سمه د تـﯥوپک مرمي وه چي مي په زړه ولګـيده***

***له رنګ نه به مي الله خبر وه خو دا چي خاله دوي مي پوه نشي خبره مي بدله کـړه ما ويلي خداي دي خير کـړي***

***خاله پوشتنه وکـړه چي څه دي ؟***

***ما ويلي دغسي کومه ترافيکي پيشه شوي ده***

***خو په دي کي مي خير وه چي خاله مي فارسي نه پوهيده او خبرونه يي په پشتو ونه ويلي ګـني تر سهاره به دي زما او ما د دي غوژونه په ژړا خوړلي وه***

***ماما ته می زنګ وواهه چي څه حال دي دا ريشتيا دي که يه ؟***

***ويلي ريشتيا خو دي خو زه به يي وګـورم چي زموژ څوک مړه دي که زخميان***

دا ماما مي هم په دوبي کي وه
خاله ته مي وويلي تاسو بيده شي زه د يو ملګري کره ځم
خو په دي وحت کي مي د خاله زوي هم راشکي شو
هغه مي پوه کړو چي سړيه حال خراب دي خو تر سهاره په پټه ولګيږي

سهار لا وختي نه وه شوي چي ماما مي د جنازي اعلان پورته کړي وه

بيا زه هم په ډيري اساني سره خبر شوم چي خپله قدرمنه کورنۍ مي له لاسه ورکړي ده
دا چي پلار مي راته د دوبي ويزه اخيستي وه نو ما هم بيړني ټکټ وکړو او لاړم دوبي ته خاله مي دلته په غم کي لړلي پريشوده
تر هغو چي يولس بجي زه له کوره تلم هواي ډګر ته چي نيم خپلوان بيا راورسيدل

ما هم سفر وکړو د دوبي په لوري دا مي ځلورم سفر
وه چي له هيواده مي بهر کاوه

کله چي هغلته ورسيدم نو ډير په اساني مي خپل کس
پيدا کړو کوم کس مي چي ماما راپسي استولي وه

هغه سړي هم راستن روغتون ته بوتلم

هغلته مي چي په کورني سترګي ولګيدي نو بي سده
شوي وم يو وخت مي چي سترګي خلاصي کړي
ګورم يوه نا اشنا ښځه مي سرته ولاړه

ما پوختنه وکړه تاسو ويلي يي ښاغلي وليد جانه زه يم
راحله ستا د ماما ښځه

ما وويلي مور ته مي بوځه

ويلي صبر شه ځو

له نيم ساعت وروسته يي چي بوتللم نو ګورم چي ټوله
کورنۍ مي په حق رسيدلي وه

***انا الله و انا اليه راجعون***

***نور نو ځه نه وه چي کـړي مي وايي بس شه سم مي په چغو چيغو وژړل ماما او ماما شځه هم راسره بدرګـه شول***

***کله مي چي ستوني له ژړا بند شو ماما ته مي وويلي دوي بيايم کورته هغلته يي خاورو ته سپارو ماما هم ومنله***

***خو پوليسو بيا نه منله ويلي يي دلته يي خاورو ته سپارو***

***اخر چي پوليس په موژ زورور شول زه مجبوره شوم چي هغلته يي خاورو ته وسپارم***

***له يوي هفتي وروسته کور ته راغلم دلته مي هم ماما ګـانو خيرو خيرات کـړي وه***

***زه هم چي راغلم نو د خلکو راتګ راته کيده نو ځکه ما د پلار د بانکي اکونټ نه پيسي واخيستي او يو خيرات ما هم وکـړو چي ټول خپل خپلوان او کليوال راغلل***

ایله یوه هفته کي له میلمنو خلاص شوم نو لاړم مکتب ته نو نیم امتحانونه رانه تیر شوي وه خیر مي ده کي وه چي له نیمو شاګـردانو یي یوه ورځ امتحان اخیسته او له نیمو بله ورځ

دغه امتحانونه یي ځکه له نیمو شاګـردانو یوه او له نیمو بله ورځ اخیستل چي د کرونا مرض یو څه شتون درلوده

خو ما به هره ورځ دوه امتحانونه ورکول

ټول صنفیان مي هم راسره سخت خفه شول ټولو راسره غم خواري وکـړه

لا مو امتحانونه نه وه خلاص چي هیواد د طالبانو لاس ته وغورځیده

په اوله ورځ چي طالبان راغلل نو روخصت یي کرو

په دي ورځ نو زیات شمیر خلکو دهواي ډګـر په لوري منډي وهلي چي هیواد پریږدي کني طالبان به یي مړه کي

همداسي وهمونه وه د خلکو په زړونو کي
ډیرو خلکو هیواد پرشوده
ماته هم ډیرو خپلوانو وویلي چي ځه لاړ شه خو زما خو اول زړه نه کیده بیا مي که زړه هم کیده خو اوس مي له طیاري څخه بیخي بد راتلل کني پخوا به هر کله په طیاره کي کندهار ته تلم
ولي اوس هم پکي ځم
خو بیا مي هم بد ځیني راځي
خیر ده یولسم هم همداسي په ټوکو ټوکو کي خلاص شو داځلي نو بیخي په ب ګروپ کي کامیاب شوي وم داځل چي واقعیت کي شي غمونه ډیر وه درس هم خوند نه راکولو
هر کله به مي ځانته رد بد ویلي چي ولي له پلار سره نه تللم اوس به زه هم مړ وم اوس به بي موره نه وم اوس به مي له ټولي کورنۍ سره یوځای خښ وم
خو په دي کي بیا ګټه نه وه
ځکه چي مرګ به چاته مخکي او چاته هم روسته راځي

خو دا هر څه به د يوي دقيقي لپاره وه
يو ورځ چي لا مو سالانه امتحانونه نه وه خلاص د قمبر
په څلورو لارو کي راتلم

په بوريده ګـي کي مي سترګـي پورته کـړي ما ويل
چي کوم موټـر مي پنچر نه کـړي

خو چي سترګـي مي پورته کـړي د خداي په يوه
مخلوق ولګـيدي
زموږ د دواړو سترګـي سره په ټکر کي شوي
دي جيلي سم دستي سترګـي شکته کـړي د ځمکي په
لوري
د دي حيا سخت خوند راکـړو يوه دقه مي حيران پسي
وکتل بيا مي په زړه کي تيره شوه
چي دا جيلي د پلار دومره عزت او ابرو ساتي
پلار شمله يي دومره جګـه کـړه نو د خاوند به څومره
جيګـه کـړي

په زړه کې مي وويلي چې دا د هورو پيغله بايد زما شي ما ويلي که کورته ځي زه به يي هم کور پيدا کړم او خواستګاران به پسي ولېږم

خو چي له شا يي پسي ورغلم نو ګورم چي ديوي کورس ته لاړه

زه هم پسي شوم

دا د مدير اداري مخي ته ودريده زه هم مدير ته د انتظار په چوکي کيناستم د دي خبرو ته شه سم په دقت غوږ وم چي څه وايي

اخ دا شکلي نوم يي چي په دي شکلي اواز سره له خولي ووتلو نو زه هم هماغلته بيخي بي واکه شوم زړه مي ټوپونه وهل چي کاش دا هوره اوس هم ماسره وه او کاش دا هوره زما واي

مدير يي نوم په ورقه کي وليکه دي ته يي کارت ورکړو داځلي دوه نوري انجوني هم له ما مخکي شوي ما هم څه ونه ويلي چي زما نوبت شو نو مدير وويلي پيش بيا

سلام مي ورکړو له روغبړ وروسته يي وويلي

چه میخوانی اساسات یا هم اماده گی کانکور
جواب مي ورکړو ني استاد اماده گي براي کانکور میخوانم

سوال يي وکه صنف چند استي

جواب مي ورکړو نو صنف يازده ره خلاص ميکنم

نور يي هم پوښتني وکړي خو چي خبره بل خوا لاړه نشي راځم خپلي کيسي ته

د مروي دوي په صنف کي مي ځانته صفت نام وکړو

د جدي مياشتي په څلورمه نيټه چي د شنبي ورځ وه درسونه شروع شول

په لومړي ورځ يي ډاکټر نادر راغلو

هغه په اوله کي په خپل ځان معرفي کړو بيا يي خپل قانون ورېل چي په صنف کي دا منم دا نه منم

خير ورځي تيريدي درس ورځ تر بلي سختيده ما هه کله ويلي کله نه خو دا جيلي به مي هره ورځ ليدله په دي ليده به يي خوشحاله کيدم

بلاخره يي داسي کړم چي بايد يي له شاه پسي ورشم

## کله کله به پسي ورتللم

ما نو له ماشومتوب څخه انجوني بدي ایسیدي خو بس نه پوهیږم دغه هوره مي څنګه خوشه شو مخکي له دي مي نورو جینکو باندي هم سترګي لګیدلي وي خو هغوي بیا داسي نه وي هغوي به هم راکي سترګي خخي کړي وي

خو دلته یوه خبره مي د مورکي راته په یاد کي راځي

هغي به ویل چي له کوم څه دي بد راځي خداي پاک دي په هغه ځای برابروي

ریښتیا هم همداسي وه

ولي دا نو بیخي بل ډول وه

د ژمي یخي ورځي واوره هم وریده دا به هم راتلله د دي له راتګ نه مي خوند اخیسته

اخر نه پوهیږم چي دا به هم زما په مینه کي غرقه شوي وه که به په ما پوهیدله چي زه یي له شا پسي ورتللم

خو دي به هم هر کله شاته راپسي کتل

**ماته به دغه ټپه مخکي مخکی کيدله**

**په لاره تلي مخ دي راستون کړو**
**د ظالم لوري په ګولي دي وويشتم**

**دي هم همداسي راته کتل**
**خير وخت تيرده د روژي مبارکه مياشت هم راغلله**
**په دي مياشت کي ډيري خلک يوازي په ژبه روژه وي**
**خو زه بيا په واقعيت کي هم ټول بدن مي روژه وي**
**سترګي خوله او نورو ټول اعمال چي له روژي**
**مخکي مي كول لكه د فلم ليدل سندري اوريدل خو دا**
**ټول په روژي کي بند وه په دي مياشت کي مي يوازي**
**دغه شعر ويلي**
**دي ته خو مي نه کتل خو دغه يو شعر مي ويلي**

**روژه راغله ديد يي نشته**
**خدايه ته يي وکړي مرسته**

يو به تندي د روژي ورم
بل مي صنم په خوا کي نشته

روژه هم شه وه تيريده خو بي له ديدن ځخه
اخر چي اختر خلاص شو زړه مي وغوشتل چي وړانديز ورته وکم
خو پښتو او پښتونولي او د پښتو خبرو نه پريشودم
خير يوه ورځ مي تصميم ونيوه چي په ورقه کي به ورته ليکم
دا هم پيغله ده شايد يي ځانته کوم بل کس انتخاب کـړي وي
ليک مي داسي شروع کـړو

سلام عليکم زما ګـراني
په دي هيله من يم چي روغه او جوړه به يي له قدرمني کورنۍ او خواهرخوندو سره دي

وبخشه دا چي خواستګار نه درته استوم خو په ليک دي غواړم

زه درسره ډيره مينه لرم له ټولي نړي هم ډيره

ته زما هر څه يي

بي له تا ژوندون ګران دي

او...

خو خير ده زما ګراني خبري ډيري دي او دا چي خبري بل طرف لاړي نسي راځم خپله خبره درته کوم

زه غواړم خپل ټول عمر تاسره تير کړم زه غواړم ته زما شي او...

نو که تا خپل ځانته بل کس نه وي انتخاب کړي نو زه غواړم تاته خواستګاران واستوم

او تا خپله کړم

ځکه ته هم حق لري چي ځانته يو کس انتخاب کړي

ته يو ځل شاته وګوره چي ما هم وپيژني

دي هم وکتل او زما يي زړه هم ويوړلو او د دي هم مخ
تک سور شوي وه

خو خير ده ستا جواب په دوه خبرو غواړم

که دي خوښه وي نو دا ليک وشکوه او که دي خوښه
نه وي نو خط په دستکول کي که او لاړه شه کور کي
يي وشکوه

له يوه کوچني مدت تګ او زنډ وروسته يي وشکولو

زه هم خوشحاله شوم

دا هم چي تلله نو شاته شاته يي کتل او خندل به يي

ما هم نور زنډ ونکړلو سيده مي خاله رڼا ته زنګ
وواهه په نه زړه مي وويلي چي داسي کيسه ده

هغي هم وويلي زوي جانه ته هم شه وايي دمور دوي خو
دي ډير وخت وتلي ده خو چي بيا هم دا لوي يعني د
قرباني اختر تير شي نو بيا به يي درته وکم

**ما هم ومنله**

**دا چي د ورقي په بيخ کي مي خپل نمبر ليکلي وه ما هم سر ونه خوځاوه**

**خو له څلورو ورځو وروسته په تلګرام کي د استاد حامدګروپ کي مسيج وشو**

**ما هم پسي منډه کړه ځکه هغه ګروپ نه مي د رياضي منطق اخيسته**

**ما ويلي شايد استاد ليږلي وي**

**ګورم چي بل کس وه مسيج يي کړي وه ويلي سلام ټولو ته ماته هم دغه کتاب وليږی کوم چي اتل يي غواړي**

**pdfبڼه يي غواړم**

**ما ورته وويلي ما دري ورځي مخکي غوښتي نشته**

**دي وويلي ته يو ځل شخصي ته راشه**

**ما ويلي کار دي وايه نشم کولاي**

**راته يي وويلي اتل صاحب تاسره مي مهم کار دي**

ما هم ومنله ورغلم شخصي ته

زه : سلام

چا سره مو کار وه

هغي وويلي زه يم مروه

ما دروغ وګڼله فکر مي وکه کومه ملګري به يي وي

نمبر مي د  وتساپ ورکړو مسيج يي وکړو

ګورم خپل يي لس عکسونه راوليږل

شک مي په باور بدل شو

له ډيرو مسيجونو وروسته مي ورته وويلي له قرباني اختر نه وروسته خاله دراستوم

له شرمه يي انټرنيټ اف کړو

بيا نو ما هم هر کله د دي نمبر ته کرډيټ ليګه

له زړو افغانيو مي ورته کمي نه ليږلي

ځکه دا مي نو شخصيت نه وه

هره ورځ مو همداسي مسيجونه کول

هره ورځ به مو په ډيوه کورس کي کتل

له ډیوي کورس نه ډیر خوشحاله هم وم

دا وخت هم راغلو چي د اختر خرید مو کـړي وه

لاړم ځانته مي هم شیان واخیستل بیا له دي وروسته مي دي ته هم یو ساعت واخیسته

دوخترانه وه خو په خپل عمر کي مي اول ځل داسي ساعت لیده

دا مي هم دي ته ورکـړلو

اختر هم په خوشحالي کي تیر شو په دوهم ورځ مي ورته یو چکر د قرغي په بند کي ورکـړلو

بیا نو مازدیګـر وه چي راغلو کور ته

د اختر دریمه ورځ مي خاله زنګـ وواهه ویلي یي چي راځه دلته ساعت به دي تیر شي چکر به هم ووهي

ما هم ومنله

ځکه چي د کورنۍ له مړیني وروسته هیڅ خپل هم نه زنګـ وهلي وه نه هم راتلل بس یوه همدغه خاله مي تلله او راتلله

نور نه ماما راتللو نه هم خاله کاکاګـانو نه ګـیله مي نه

وه په هیواد کي ځکه هغوي په هیواد کي نه وه

او عمه ګاني هم نه راتللي

خو همدغه رنړا خاله به راتلله

زه هم چي ورغلم نو له دوه شپو وروسته مي خاله سره خبره شریکه کړه

بي له یاده دي پاتي نشي او بخشه هم کوي پورته رانه پاتي شوي وه

ما یو کاکا درلوده چي هغه هم زما له پلار سره په تجارت کي شریک وه

ما هم د پلار له مړیني وروسته ټول کارونه هغه ته وسپارل یوازي مي د پلار جایداد واخیستل او هغه بانکي اکونټ چي پیسي یي پکي وي

دا پیسي مي کاکا هم نه راته پریشودي ویلي یي ځوان یي بیا دي ډیري پیسي بي لاري کوي

ما هم منله نه مي اخیستي

بس هغه پیسي به مي اخیستي چي خپلو همکارانو ته مي ورکولي داټولني

راځم کیسي ته

خاله مي ویلي سمه ده ته دي د عبدالرحمن پلار ته ووایه
چي دوي به له ما سره لاړ شي او بیا به خبره نوره
خلاصه کوو

ما هم ومنله او د عبدالرحمن پلار هم

نور نو رڼا خاله مي څلور واړه لورګاني او دوه یي
زامن راسره راغلل

دلته له دوه شپو وروسته چي دیوي کورس ته لاړم نو
دي ته مي وویلي سبا کورس ته مه راځه

ویلي ولي ؟

ما وویل لخیر سره خاله درلیږم
دا خبره وه چي زه نه مور خور یا ورور لرم

نو ویي ویلي سمه ده
له شرمه يي مخ تک سور شو

لاړو سبا نو د ماسپښين دري بجي وي چي دوي مي د
مروي کور ته بوتلل او زه نو راغلم په لاره کي ورته
ودریدم

خاله مي دوه يي لورګاني او مشر زوي يي ورغلل

زه ډير بي انتظاره وم
چي راغلل پوښتنه مي وکړه څه وشول
د خاله لور مي په ريشخند وویلي ډير ورته وارخطا يی

ما یوه تشه خندا وکړه جواب مي نه درلوده

دي بلي يي وويلي دا هوره به هم ستا شي خو له كومه دي كــېږه ؟

دي ته مي شه ځغرده جواب وركــړو

ما ويلي په ډيوه كورس كي مي پيدا كــړي ده

دي نو وويل اله وي دي شوروي ته ګــوره څه وايي
ما نو بيا هم ترخه خندا وكــړه

ځكه مي داسي جواب وركــړو چي راباندي زور كيدل او بيا يي زورولم

خاله مي ويلي چي د مروي مور وويلي چي يو ځل بيا هم راشي

دوه ورځې وروسته بیا ورغلي

دا ځل یې ورته ویلي وه چې موږ باید هلک وګورو

نو موږ هم ورته په سبا یې تیاري ونیوه

دوي چې ولیدو نو بیا مي د خاله نمبر غوشتلي وه

په دي ورځ چې لاړل نو د مروي مور زما خاله ته بهانه وکړه ویلي یې چې لور یې لا وړه جیلي ده بل دا چې هغه لوري زده کړي هم کوي

ما مي خاله ته وویلي چې موږ دي هم لور پریږدو چې لوري زده کړي وکړي بل ته دي هم یو ځل لور تهووایه چې د هغي په دغه معامله کي څه نظر دي ایا هغه غواړي چې راسره واده وکړي که نه

بیا له دې خبرو دوه ساعته وروسته یې زما یو عکس
وغوښته چې جیلې یې ووینې څنګه یې خوښه ده

دا چې زه او مروه له پښوا پوه وو نو د عکس له لیږلو
وروسته مروې هم مورته د هو جواب ویلې وه
هماغه وه چې په سبا یې زموږ خلک وغوښتل چې د
مروې ستنه راوړي
نو په دې کې مې د خاله رڼا دوه زامن
د هغې خاوند او زما یو ملګرې لاړل په ستنه پسې

له نیکه مرغه ستنه یې هم راوړه

دا د ښځو رواج دې هم ورک شي
زموږ رواج ده چې له ستنې راوړلو درې ورځې
وروسته به چیله پوشې کوي

په دي وخت کي د خاله لورګانو   راڅخه چا یو ډول جامي غوښتلي چا بل ډول ما هم ټولو ته هر څه یي چي پکار وه واخیستل

ځانته مي هم یوه سمه دریشي وکړه

د مروي دپاره مي هم هغه شیان چي د هغي خوش ول واخیستل

بیا مي د تاج قصر طلایي په هوټل کي کوژده هم ونیوله

چیله پوشي هم په خیر سره تیره سوه

له دي مي وروسته د مروي پلار ته چي ما به حاجي صاحب ویلي ورته وویل زه غواړم واده واخلم که تاسو ځان اماده کړي شه به وي

ویلي یي سمه ده

موږ به نو هره ورځ يو ساعت وخته ډيوي کورس ته تللو او بيا به دوه دري ساعت ناوخته راتللو کورته

د کورس نه به چي روخصت شولو نو د مروي دوي کور چي په قلعه وزير کي وه له دعوت پوهنتون څخه وراندي نو دالته د غزنه په نامه يوه ايسکريم خانه وه چي مروه به هر کله دلته راتلله او ايسکريم به مو خوړلو

د واده ورځي هم رانژدي کيدي خو په دومره وخت کي مي هم د مروي دوي کور ته دري ځلي جوړه يعني هغه جامي چي زوم يا ورا يي د ناوي کور ته وړي وروړلي

د واده مو هم هر ډول سودا واخيسته

کاکا جان مي هم شريف راغلو د حسيب او ويس هم يوه يوه جوړه جامي راباندي واوختلي

واده مي هم د ماروي په زړه په کاج هوټل کي چي په څلور راهي برکي کي موقعيت لري وکړو

ځکه چي مروي ويلي دلته يي د ماما د لور واده هم شوي ده ډير شايسته ځاي ده نو ځکه يي دلته واده وکړو

له واده وروسته مي کاکا هم لاړو جرمني ته او خاله هم خپل کلي ته

دا بيغيرته ماما ګان مي چي مور ژوندي وه هر کله به راتلل بيا به يي چي پيسي پکار وي زما مور ته به يي په ورينګه خوله ويلي خور جاني دومره روپي راکړه چي پيدا يي کم درکوم يي

خو چي مور مي مړه شوه پوه شول چي پيسي مي د کاکا اکونټ ته راځي نو له ما سره يي خپلوي وشکوله

ما هم سر نه پسي خوږاوه ځکه مروه راته ټوله نړي

وه

راځم خپلي کیسي ته

په اوله کي چي ټول میلمانه لاړل نو مروه به لږ لږ
پټنګ کیدله
په یوه هفته کي دري ځلي د مور کور ته هم لاړه

خو له یوي هفتي وروسته بیا بیرته خپلو درسونو ته
ادامه ورکـړه چي مکتب یي د امارت اسلامي له خوا بند
وه خو کورس ته تلله
زه به هم کله کله دیوي کورس ته ورسره تللم
زما خو لا د اماده ګـي سره جوړه نه وه خو دا به مي
کله کله په خپل موټر کي بیوله

نوره به دا هم له خپلو خواهر خوندو سره په خپل موټر
کي تلله

یوه ورځ چې جمعه وه مروي وويلي زه ځم یو چکر
مور کور ته ما نو مخکي له دي هيڅ نه ورته ويلي
دي به چې وويل ځم ما به هم پريشودله

خو دا ځل مې وويل که لږ ناوخته لاړه سي شه به وي
ځکه زه لږ کار لرم تاسره

دا وخت مو د واده دري مياشتي تيري شوي وي

دي ويلي سمه ده

په دي وخت ک برق هم راغلو

تاسو ته به معلوم وي چې په افغانستان کي د برق ډير
مشکل وي

دا ځل هم همداسي وه برقونه خراب وه په څلرویشت ساعتونو کي به که کوم ساعت راغلل

چي برق راغلو نو مروي ویل ځمه چي جامي پریمینځم ته دي هم جامي بدلي که

دي نو آب ګـرمي برق ته بسته کوله ما ویلي دا به بل وخت وکي لاړه شه مور کره دي

دي وویل نه بیا برق ځي پریږده چي جامي مینځل خلاص کـړم

ما نو څه نشول ویلي ځکه په کور کي دا زوروره وه

دي چي جامي ماشین د کالیو مینځلو ته واچولي برق هم لاړو

نوره نو دا هم ورته کیناسته په لاس یي پریمینځل

ما ډیر ورته وویل مه یي مینځه په لاس باندي مریضه به شي دي نه منله

ډیري جامي یي په لاس پریمنځلي ما هم ورته د غرمي په ډوډي کي ترخه بریاني ورته پاخه کړل

ډوډي ته چي کیناستو نو ویلي یي دا چپ لاس مي سم نه خوزیږی
ما وویل خو لیوني یي په لاس به دي نه مینځل بیا چي برق جوړ شوي وه بیا به مو په ماشین کي مینځل

دي ویل چي خلاص شوي واي نور بیا ډیریدل

له ډوډي وروسته یي چاي ته شه زړه وه چي اوله پیاله یي خلاصه شوه توده تبه پري راغلله

نور نو په خپله کوټه یعني اطاق کي بیده شوه

له یو ساعت وروسته ورغلم چي لمانځه ته یي راجګه
کړم

ګورم داسي خولي یعني عرق پري راروانې وي چي
بي حده
ما پوختنه وکړه ولي

دي ویلي چي نه پوهیږم راسته پښه او چپ لاس مي
راپسي دارنده دي

بي له زنده مي ډاکټر ته بوتلله
مور ته یي هم ما زنګ وکړو چي مروه ناروغه دي یو
ځل راشي

دي هم مور پلار او يوه خور يي شفا خاني ته راغلل
هغلته له سيروم دوا او يو څو مايعناتو وروسته ډاکټر داسي وويل
ډير کار يي کړي ده پښه يي ډيره قات شوي ده شايد چي فلج هم شي

دا نو د ډاکټر خبره نه وه سمه د توپک مرمي وه
مروه خو خبره نشوه خو زه او مور يي خبر شو مور يي هم ډيره خواشيني شوه

چي کور ته لاړو د ډاکټر له خبرو او سپاريشتني وروسته مروي هماغه دوا خوړله
خو فايده يي نه کوله

له دري ورځو وروسته نو مروه په يوه لاس او يوي پښي باندي مکمل فلج شوه له خواشيني هم مړ وم
د حل لاره مي هم لټوله

چي کاکا مي خبر شو نو هغه وويل چي اخشي مي هم همداسي په دوارو پښو فلج وه دلته د جرمني په برلين شار کي يوه ډاکټره ده د ټاليا پرکويج په نوم هغي ته راشه ډيره تکړه هم ده هغي باندي عمليات وکه شايد جوړه شي

مروي هم ومنله خو بيا نو له عمليات نه هم ډاريده

ما يي هم زړه ورته ډاډه کړو چي هيڅ به هم نه کيږي اول به دي د لاس عمليات وکړو که جوړ شو نو بيا به خپه هم عمليات کي

په ډيره خواري او زحمت سره مي راپخلا کړه

نور چي دا راضي شوه ما يي هم د پاسپورت غمه وکړه

په یوه میاشت کي مو پاسپورت ورته واخیسته دا چي
حکومت نوي بدل شوي وه او د پاسپورټ مشکل هم وه
چي ډیریو خلکو له هیواد څخه د تشتیدلو په نوم اخیسته
نو ځکه خو موږ ته هم ناوخته شو ګـني د مروي او د
خور یي پاسپورټونه بیا د مریضانو په ډله کي راتللو

زما خو له پخوا هم پاسپورټ وه

هم مي تجارتي پاسپورټ وه هم ملکي

ځکه پلار مي ویل که زه نه یم ته به تجارت مخکي وړي
خو تقدیر بیا بل څه کول

چي پاسپورټونه مي واخیستل بیا نو د پاکیستان ویزه
مي په دریو ورځو کي په زر زر ډالره واخیسته ځانته
هم مروي ته هم د مروي خور ته هم

د پاکیستان ته له تـګ وروسته بیا نو لاړو جرمني ته
زما بیا هم زړه نه وه چي لاړ شم ځکه هماغه د مور
مړیني کي مي له طیاري څخه بد راتلل

خو د مروي خور ویل که چیره مروه بي سده شي یا بل

چیشي پرې وشي چې پردې سړي يي پورته کوي شه ده
که يي ته پورته کي
تاته به بيا خپلوان څه وايي چې بې غيرته خپله ښځه په
پردو سړو پورته کوي

ځکه مې ومنله چې بايد ورسره لاړ شم

جرمني ته چې ورسيدو نو له دريو ورځو وروسته مې
کاکا همغه ډاکټري ته بوتللو چې د هغه اخشي ورغلي
وه
بيا نو هغې وويل چې دوه ورځې وروسته راشي چې زه
مو عمليات وکم

د مروي د لاس عمليات يي چې شروع کول مروه دري
ځلي بې سده شوه نور نو زه هم ورته په غوسه شوم چې
خوري خو دي نه لا درته که د خداي امر او رضا وي
جوړه به شي دا ځلي يي نو خور هم شه سمه ورته په
غوسه شوه داسي خبري يي ورته وکړي چې زه فکر

## کوم مروه به اوس هم ورنه ډاریږي

دغو عملیاتو دوه ساعت وخت وغوشتلو له دوه ساعت وروسته د خداي احسان وه چي د مروي دوه ګوتو لږ ټکان خوړلي وه خو چي عملیات بیخي خلاص شول د مروي لاس سم کار کاه ولي دا چي عملیات یي کړي وه نو د ډاکټري په وینا سره چي ډیر به یي نه خوزوي د یوي هفتي د پاره نو موږ هم احتیاط کاوه ورسره

مروه هم ورته خوشحاله وه

دا ځلي یي نو خپله وویل د پښي مي هم ورسره پاڼي لاس لیک کړه هغه به هم راته عملیات کړي

ما هم ومنله له دوه هفتو زنډ وروسته یي پښه هم ورته عملیات کړه خو دا خپه یي په اول ځل عملیات نه بلکي په دوهم ځل کي جوړه شوه

خو د ډاکټري دا توصیه وه چي د یو دریو میاشتو
لپاره به ډیره نه ګرځي بیا به که ځي هم چیره نو پیاده
رو به نه ځي په موټر کي به ځي

موږ هم ومنله

وخت خو د ټکټ خلاص وه خو ویزه مو شپږ میاشتني
وه دا ځل مي هم زر زر یورو په ټکټ ورکړي
راغللو هیواد ته دلته مي بیا پخواني ژوند تیر کړ
بیا مي خوشحالي په نصیب وه

ما به ه کله مروي ته دیګ پخاوه هغه هم خوشحاله وه
او  دي سره مي په په هر کار کي مرسته کوله

د خداي احسان وه چي که ډیر وخت هم ووتلو خو بیا هم
مروه په خپلو پښو ودریده

دا وخت مو د واده یوازي اته میاشتي وتلي وي

مروه هم حامله وه

او هم چي پخوا پري ډیر د پښو او لاس درد او غم تیر شوي وه نو نه به مي کوم کار ته پریخوده او نه هم کوم غم یا تشویش ته هره ورځ به مي چکر ته بیوله

د الله بل احسان دا وه چي خداي لور راکړه خو غضب یي بیا دا وه چي مروه یي د لور د پیدا کیدو په وخت کي رانه واخیستله

دا چي موږ هم په ډیوه کورس کي یو ځاي شوي وو نو دغه نوم مي هم خوش وه

اوس مي د دغي لور کي نوم هم ډیوه ایشي ده

دغه لور مي اوس د خاله په کور کي یي ده خاپوړي هم کوي او کله کله یي وینم هم

سمه په قواره کي مروه ده

د هغي مینه په دي ماتوم

اخ الله دي وبخشه مروه جاني

انا الله و انا اليه راجعون

دا ناول دي خاص  ډيوي کورس شاګـردي ته ډالي وي

پاي

1402/2/12

تميم امرخيل

که چيري غواړي چي داسي نور ناولونه هم لولي نو
زموږ د تلګـرام کانال درسره جوين کـړي

تلګرام کانال

https://t.me/WaaaaaTaaaaa

د مشکل په وخت کي د تمیم امرخیل د اړیکو شمیره هم درسره ولري

0764421378

0700870550


Happy New Year.